# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

د یمني ځوانانو رپ

ژباړه: فرهاد ویاړ

۲۵ سپتمبر ۲۰۱۱

## نه جوړجاړی، نه چوپتیا؛ یوازې د رژیم ړنګیدنه!

هیله کوم – ای خلکو!

څه نظر لرئ؟

لږ صبر وکړی

ان درې ورځې نور ....

ولسونه د رژیم ړنګیدنه غواړي!

ولسونه د رژیم ړنګیدنه غواړي!

ای خلکه، پام وکړئ!

دا کارونه بی فایده دي....

حکومت د وژنکي زهرو په شان دی!

هر څوک چي ورته ستونزه جوړه کړي

داسي یې نه پریږدي

پوځیان راولي، بیا اضطراري حالت اعلاموي

تاسو به ووژني او زندان ته به مو بوځي

او بیا نو له هغوي خلاصیدای نشئ

ولسونه د رژیم ړنګیدنه غواړي!

ولسونه د رژیم ړنګیدنه غواړي!

راځئ چي لږ محتاطه ووسو

تاسو ولي دومره د خطرناکو کارونو په لټه کي یاست؟

راځئ چي له هغو سره تودې خبرې وکړو

په سياسي دريځونو کې ور سره هوکړې ته ورسيږو
ډير ښه... دا هم يوه وروستى تجربه ده
ولسونه د رژيم ړنګيدنه غواړي!
ولسونه د رژيم ړنګيدنه غواړي!
څه نظر لرئ چې انتخابات وکړو....؟
دا به د بل هرې لارې غوره وي،
هر څوك چې واکمن شي مونږ ته به تضمينونه راکړي
بيا حکومت سره ويشو او تبعيض باطل اعلامو
ولسونه د رژيم ړنګيدنه غواړي!
ولسونه د رژيم ړنګيدنه غواړي!
نظر مو څه دی چې يو څه صبر وکړو؟
ښاغلی ولسمشر په خپله ستونزې حلوي...
[د يمن د رئيس غږ] – دا وړانديز غير منطقي دی!
ولسونه د رژيم ړنګيدنه غواړي!
ولسونه د رژيم ړنګيدنه غواړي!